د پوهني وزارت

حسن خط

شپږم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی　　دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی　　د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو　　د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي　　پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي　　هم ایماق، هم پشه یان
دا هېواد به تل ځلیږي　　لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به　　لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر　　وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

حسن خط

شپږم ټولګی

سال چاپ: ۱۳۹۷ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: حسن خط

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د هنر برخې د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنت غړي

ټولګی: شپږم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۷ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه: بهیر مطبعه

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او بښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیځلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

سرليکونه — مخ

لومړی څپرکی

۱ له نورو تورو سره د (ا) توري ترکيب ۲
۲ له نورو تورو سره د (ب) توري ترکيب ۳
۳ له نورو تورو سره د (ج) توري ترکيب ٤
٤ له نورو تورو سره د (د) توري ترکيب ۵
۵ له نورو تورو سره د (ر) توري ترکيب ٦
٦ له نورو تورو سره د (س) توري ترکيب ۷
۷ له نورو تورو سره د (ص) توري ترکيب ۸
۸ له نورو تورو سره د (ط) توري ترکيب ۹
۹ له نورو تورو سره د (ع) توري ترکيب ۱۰
۱۰ له نورو تورو سره د (ف) توري ترکيب ۱۱
۱۱ له نورو تورو سره د (ق) توري ترکيب ۱۲
۱۲ له نورو تورو سره د (ک) توري ترکيب ۱۳
۱۳ له نورو تورو سره د (ل) توري ترکيب ۱٤
۱٤ له نورو تورو سره د (م) توري ترکيب ۱۵
۱۵ له نورو تورو سره د (ن) توري ترکيب ۱٦
۱٦ له نورو تورو سره د (ه) توري ترکيب ۱۷
۱۷ له نورو تورو سره د (و) توري ترکيب ۱۸
۱۸ له نورو تورو سره د (ی) توري ترکيب ۱۹

دويم څپرکی

۱۹ په شکسته نستعليق خط د تورو د خطاطۍ بڼه، ټکو اېښودنه او ترکيب ۲۰
۲۰ له نورو تورو سره د (ا ، ب) تورو ترکيب ۲۱
۲۱ له نورو تورو سره د (ج ، د) تورو ترکيب ۲۲
۲۲ له نورو تورو سره د (ر ، س) تورو ترکيب ۲۳
۲۳ له نورو تورو سره د (ص ،ط) تورو ترکيب ۲٤
۲٤ له نورو تورو سره د (ع ، ف) تورو ترکيب ۲۵
۲۵ له نورو تورو سره د (ق ، ک) تورو ترکيب ۲٦
۲٦ له نورو تورو سره د (ل، م،ن) تورو ترکيب ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۷ له نورو تورو سره د (و، ه) تورو ترکیب ۲۸
۲۸ له نورو تورو سره د (ی) تورو ترکیب ۲۹

دریم څپرکی

۲۹ دکلموپه بېلا بېلو موقعیتونو کې په نسخ خط کې د تورو د حرکتونو ۳۰
۳۰ له نورو تورو سره د (الف) توري ترکیبونه ۳۱
۳۱ له نورو تورو سره د (ب) توري ترکیبونه ۳۲
۳۲ له نورو تورو سره د (ج) توري ترکیبونه ۳۳
۳۳ له نورو تورو سره د (د) توري ترکیبونه ۳۴
۳۴ له نورو تورو سره د (ر) توري ترکیبونه ۳۵
۳۵ له نورو تورو سره د (س) توري ترکیبونه ۳۶
۳۶ له نورو تورو سره د (ص) توري ترکیبونه ۳۷
۳۷ له نورو تورو سره د (ط) توري ترکیبونه..۳۸
۳۸ له نورو تورو سره د (ع) توري ترکیبونه ۳۹
۳۹ له نورو تورو سره د (ف) توري ترکیبونه ۴۰
۴۰ له نورو تورو سره د (ق) توري ترکیبونه ۴۱
۴۱ له نورو تورو سره د (ک) توري ترکیبونه ۴۲
۴۲ له نورو تورو سره د (ل) توري ترکیبونه ۴۳
۴۳ له نورو تورو سره د (م) توري ترکیبونه ۴۴
۴۴ له نورو تورو سره د (ن) توري ترکیبونه..۴۵
۴۵ له نورو تورو سره د (و) توري ترکیبونه ۴۶
۴۶ له نورو تورو سره د (ه) توري ترکیبونه..۴۷
۴۷ له نورو تورو سره د (ی) توري ترکیبونه..۴۸
۴۸ کتابت..۴۹
۴۹ پر نستعلیق خط د چلیپا لیکل ۵۰
۵۰ د تور مشق دخطاطۍ طریقه ۵۱

دویمه برخه

۵۱- د حسن خط تدریس لارښود ۵۲-۵۹

یادونه: د هغو استاذانو لپاره چې د حسن خط د ښودلو د مضمون دنده په غاړه لري، خط د پېژندلو، اقسامو او د ښایسته لیکلو لپاره د وسایلو او لوازمو د پېژندلو په اړه څو ضروري ټکي د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي. هیله ده ښاغلي ښوونکي د تدریس پر مهال ترې لازمه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څپرکی

د کلمو په بیلابیلو ځایونو کې د نستعلیق خط د الفبا تورو د ترکیب او خطاطۍ پر بنې پوهېدل



(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی لوست

له نورو تورو سره د (ا) توری ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د الف توري د ترکیبونو په ټکو اېښودلو وپوهېږي.

پوښتني

ستاسو په نظر په لاندینۍ جمله کې الف توری له کومو تورو سره ترکیب شوی دی؟
څه فکر کوئ د الف توری د یوې کلمې په کومه برخه او یا یوه جمله له کومو تورو سره یو ځای مشق شوی دی؟

فعالیت

د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم په پورتنۍ جمله کې الف په پیل او منځ کې له تورو سره ترکیب شوی دی.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه د نستعلیق خط له قاعدې سره سم په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست

له تورو سره د (ب) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د نستعلیق خط له اصولو سره سم له نورو تورو سره د (ب) توري پر ټکو اپښودلو و پوهیږي.

پوښتنې

په لاندې جملو کې کومې کلمې د کرسي خط له پاسه پرتې دي؟
په لاندې کلمو کې د (ب) توری ځنګه په پیل، منځ او پای کې له نورو تورو سره ترکیب شوی دی؟



فعالیت

په پورتني تمرین کې جمله ژوره مطالعه کړئ، وروسته یې پر کړکي قلم د نستعلیق خط له اصولو سره سم مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه د نستعلیق خط له ځانګړتیاوو سره سم په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

له نورو تورو سره د(ج) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نستعلیق خط له نورو تورو سره د (ج) توري د ترکیبونو په خطاطۍ او ټکو اېښودلو پوه شي.

پوښتنه

په لاندې نمونه کې د (ج) توري پر قاعدو او ټکو ایښودلو پوهېږئ؟



فعالیت

د پورتنۍ نمونې په اړه بحث وکړئ، وروسته یې هره یوه کلمه په نستعلیق خط او کړکي قلم په خپلو کتابچو کې د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

د پورتنۍ نمونې له مخې له نورو تورو سره د (ج) توری ترکیب له ټولو ځانګړتیا وو سره په یوه جمله کې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم لوست

له نورو تورو سره د (د) توري ترکيب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د نستعليق خط له اصولو سره سم په کږکي قلم د (د) توري پر ټکو ايښودلو او ترکيب وپوهيږي.

پوښتنه

کله مو په نستعليق خط او کږکي قلم په يوه څو توريزه کلمه کې له نورو تورو سره د (د) توری په ترکيبي ډول ليکلای دی؟

فعاليت

په کږکي قلم له نورو تورو سره د (د) توري په بېلابېلو کلمو کې د موقعيت په اړوند بحث وکړئ، وروسته يې په ژوري پاملرنې له پورتنی نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې تمرين کړئ.

کورنۍ دنده

د کرسي خط پر مخ په کږکي قلم د (د) توری له پورتنۍ نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې تمرين کړئ.

پنځم لوست

له نورو تور سره د (ر) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به په نستعلیق خط په یوازې او یا ترکیبي ډول د (ر) توري په خطاطی او ټکو ایښودلو وپوهیږي.

پوښتني

څه فکر کوئ چې د (ر) توری په ترکیبي ډول په کومو برخو کې خطاطي کیږي؟ ستاسو په اند د (ر) توری له څو ټکو جوړ شوی دی او د کرسي خط په کومه برخه کې خطاطي کیږي؟



فعالیت

د کرسي خط په مخ د نستعلیق خط له اصولو سره سم د (ر) توری د پورتنی جملې په کلمو کې په کړکي قلم مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

په کلمو کې له نورو تورو سره د (ر) توري ترکیب ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست

له نورو تورو سره د (س) توري ترکیب

موخه: له نورو تورو سره د (س) توري له خطاطۍ، ټکو ایښودلو او پر ترکیب به زده کوونکي وپوهیږي.

پوښتنې

څه فکر کوئ په لاندې جمله کې څو واري د (س) توری له نورو تورو سره د کلمو په کومو برخو کې په ترکیبي ډول خطاطي شوی دی؟



فعالیت

پورتنۍ نمونې د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط او کړکي قلم مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

د کرسي خط له پاسه له نورو تورو سره د (س) توري حرکت او ترکیب په کړکي قلم تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

له نورو تورو سره د (ص) توري ترکيب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ او کړکي قلم د (ص) توري ترکيب له نورو تورو سره د ټکو اينښودلو پر بنې حرکت او ترکيب وپوهيږي.

پوښتنې

کله مو د کرسي خط پر مخ د نستعليق خط له اصولو سره سم د(ص) توری په څو توريزو کلمو کې خطاطي کړی دی؟

د لاندينۍ جملې په کلمو کې د (ص) توری په ترکيبي ډول په کومو برخو کې مشق شوی دی؟



فعاليت

په خپلو کتابچو کې د پورتنۍ جملې په هکله بحث وکړئ، وروسته يې د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ جمله په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه له نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

له نورو تورو سره د (ط) توري ترکیبونه

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم د یوې جملې په څو توریزو کلموکې د (ط) توري په حرکتونو اوترکیب و پوهیږي.

پوښتني

آیا ویلای شئ چې د (ط) توری د څو توریزو کلمو په کومه برخه کې خطاطي کیږي؟

ستا سو په نظر په لاندي جمله کې د (ط) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی؟



فعالیت

په خپلو ډلو کې د (ط) توري د کلمو په پیل، منځ او پای کې په حرکتونو، ټکو اینښودلو او ترکیب خبرې وکړئ، وروسته پورتنی نمونې ته په کتو او کرسي خط ته په پاملرنې یې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

کورنی دنده

پورتنی نمونې د نستعلیق خط له اصولو سره سم په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

له نورو تورو سره د (ع) توري ترکيب

موخه: زده کوونکي به د يوې جملې په ځو توريزو کلمو کې د (ع) توري په ټکو اينبودلو او ترکيب وپوهيږي.

پوښتنې

په لاندينی نمونه کې په کړکي قلم د (ع) توري د ټکو اينبودلو حرکتونو او ترکيب په اړوند څه پوهيږئ؟

په لاندې جمله کې د (ع) توری له نورو تورو سره په لومړي سر، منځ او اخر کې د ترکيب په اړوند څه ويلای شئ؟



فعاليت

د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط او کړکي قلم پورتنی نمونه په خپلو کتابچو کې د تختې له مخې مشق او تمرين کړئ.

کورنۍ دنده

له پورتنی نمونې سره سم په کړکي قلم له نورو تورو سره د (ع) توری ترکيب کړئ، وروسته يې د کرسي خط له پاسه په خود کار او يا پنسل قلم په خپلو کتابچوکې مشق او تمرين کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

له نورو تورو سره د (ف) توري ترکیبونه

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه د نستعلیق خط له اصولو سره سم د کلمو په پیل، منځ او پای کې د (ف) توري ترکیب او خطاطي وپوهیږي.

پوښتنه

په لاندې نمونه کې د (ف) توري ترکیب له کومو تورو سره دی او څه ډول مشق شوی دی؟



فعالیت

له نورو تورو سره د (ف) توري د ترکیب په باب نستعلیق خط ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې د یوې کلمې په پیل، منځ او پای کې په پام کې ونیسئ او په کرکي قلم یې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه په کرکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم لوست

له نورو تورو سره د (ق) توري يو ځاى كېدل

موخه: زده كوونكي به په څو توريزو كلمو كې د(ق) توري ټكو اېښودل او حركتونه زده او د (ق) توري تركيب به په كرسي خط د نستعليق خط له اصولو سره سم وپوهيږي.

پوښتنې

د لاندې نمونې په اړوند څه پوهيږئ، څه ډول له نورو تورو سره تركيب شوى دى؟
د يوې كلمې په پيل، منځ او پاى كې د (ق) توري د بدلونو په اړوند څه ويلاى شئ؟



فعاليت

د كرسي خط پر مخ په نستعليق خط پورتنۍ نمونه په يوه كلمه او جمله كې له نورو تورو سره پخپلو كتابچو كې په كړكي قلم تمرين كړئ.

كورنۍ دنده

پورتنۍ جمله په كړكي قلم څو وارې په خپلو كتابچو كې تمرين كړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوو لسم لوست

له نورو تورو سره د (ک) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط د (ک) توري پر ترکیب او د کلمو په پیل، منځ او پای کې په ښکلو ایښودلو، خطاطی او ښایسته ښکلو حرکتونو وپوهیږي

پوښتني

د (ک) توری څه ډول په یوه کلمه کې له نورو تورو سره خطاطي کوئ؟

د (ک) توری په څو طریقو خطاطي کیږي؟



فعالیت

د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط د یوې جملې د کلمو په پیل او پای کې د (ک) توری په کشدار ډول له نورو تورو سره ښکلو ایښودلو او خطاطی ته په پاملرنې سره پورتنی نمونه تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنی نمونه په ژورې پاملرنې سره په کړکي قلم او یا پنسل د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست

له نورو تورو سره د (ل) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط د (ل) توري په ټکو ایښودلو او حرکتونو وپوهیږي.

پوښتنې

د کلمې په پیل، منځ او پای کې د (ل) توري د مفرد ترکیب په هکله څه ویلای شئ؟
په لاندې جمله کې د (ل) توری د کلمې په کومه برخه کې د ترکیب او اتصال په بڼه خطاطي شوی دی؟



فعالیت

په خپلو ډلو کې د (ل) توری د کلمې په پیل، منځ او پای کې په ترکیب باندې بحث وکړئ، وروسته پورتنۍ نمونه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه څو واري تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوارلسم لوست

له نورو تورو سره د (م) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه پر نستعلیق خط د کلمې په پیل، منځ او پای کې له نورو تورو سره د (م) توري په خطاطی، حرکتونو او ترکیب وپوهیږي.

پوښتنه

ستاسو په نظر د (م) توري ټکي څه ډول ایښودل او له کومو تورو سره د کلمې په پیل، منځ او پای کې ترکیب شوی دی؟



فعالیت

له نورو تورو سره د (م) توري په ترکیبي بڼه د کلمې په پیل، منځ او پای کې خبرې او بحث وکړئ، وروسته یې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

کورنۍ دنده

له نورو تورو سره د (م) توري ترکیب ته په پاملرنې سره، پورتنۍ جمله په نستعلیق خط په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه لسم لوست

له نورو تورو سره د (ن) توري ترکیب

موخه: د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د (ن) توري پر ټکو ايښودلو، خطاطی او حرکتونو به زده کوونکي وپوهيږي.

پوښتني

د کلمو په پيل، منځ او پای کې له نورو تورو سره د لاندې نمونې په ترکيب شوو تورو کې څو حرکتونه ليدل کيږي؟
ستاسو په نظر د (ن) توری په مفرد ډول د کلمو په کومه برخه کې مشق کيږي؟



(د الحجرات لسمې سورې ترجمه)

فعاليت

د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط او کړکي قلم د پورتنۍ جملې د کلمو په پيل، منځ او پای کې د (ن) توري ترکيبونه او حرکتونه څو واري په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

کورنۍ دنده

د کرسي خط له پاسه په نستعليق خط، کړکي قلم پورتنۍ نمونه څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړلسم لوست

له نورو تورو سره د (و) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کږکي قلم له نورو تورو سره د (و) توري په ټکو ایښودلو، خطاطۍ او حرکتونو وپوهیږي.

پوښتني

ستاسو په نظر د یوې څو توریزې کلمې په جوړښت کې د (و) توری په کومه برخه کې موقعیت لري؟

د یوې یا څو کلمو لرونکي جملې په جوړښت کې د (و) توري رول څه دی او څه اهمیت لري؟

(د توبې سورې د 119 آیت ترجمه)

فعالیت

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کږکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې د کرسي خط له پاسه په کږکي قلم په خپلوکتابچو کې تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه لسم لوست

له نورو تورو سره د (ه) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به دکرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د (ه) توري په حرکتونو او ترکیبونو وپوهیږي.

پوښتنې

کله مو د (ه) توری په یوه کلمه کې له نورو تورور سره دحرکتونو او ترکیبونو له مخې خطاطی کړې ده؟

د پورتنۍ نمونې د کلمو په پیل، منځ او پای کې د (ه) توري کومې بڼې ګورئ، څه شکل یې غوره کړی او څو ډوله (ه) لیدل کیږي؟

فعالیت

د (ه) توري د ترکیبونو او حرکتونو او د خطاطی په بېلا بېلو ډولونو یې خبرې وکړئ، وروسته پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه په کړکي قلم څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته لسم لوست

له نورو تورو سره د (ی) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم د یوې کلمې په پیل، منځ او پای کې د (ی) توري په ټکو ایښودلو، حرکتونو او ترکیب وپوهیږي.

پوښتنه

د څو توریزې کلمې په پیل، منځ او پای کې د (ی) توری په یوه جمله کې څنګه خطاطي کوئ؟



فعالیت

پورتنی تمرین د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم د تورو ترکیب ته په پاملرنې خطاطي کړئ.

کورنۍ دنده

د پورتنی نمونې د خپلو ځانګړتیاوو حرکتونو او ترکیبونوته په پاملرنې سره په یوه جمله کې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم څپرکی

په شکسته نستعلیق خط د تورو د خطاطۍ بڼه، ټکو ایښودلو او ترکیب

دشکسته نستعلیق خط د ټکو ایښودلو طریقه



(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

له نورو تورو سره د (ا، ب) تورو ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د (الف او ب) له ترکیب، خطاطی او ټکو ایښودلو سره بلد شي.

پوښتني

ستا سو په آند شکسته خط له نورو خطونو سره څه توپیر لري؟

ستا سو په نظر په لاندې شکل کې (ا، ب) څه ډول لیکل شوي دي؟



فعالیت

پورتنی نمونه کرسي خط ته په پاملرنې سره خطاطی کړئ، مرکب توري یې دټکو ایښودلو او له نورو تورو سره ترکیبولو او د نستعلیق شکسته خط قاعدو ته په پاملرنې په کړکي قلم مشق او تمرین کړئ.

کورنی دنده

پورتنی نمونه په کړکي قلم څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

له نورو تورو سره د (ج، د) تورو ترکیب

موخه: د کرسي خط له پاسه په شکسته او نستعلیق خط او کږکي قلم له نورو تورو سره د (ج، د) تورو په ترکیب، ټکو ایښودلو او خطاطۍ د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتني

په لاندینیو کلمو کې د (ج، د) توري په ترکیبي ډول مشق شوي دي، د هغو نومونه واخلئ.
د هغو تورو چې په لاندینیو کلمو کې له (ج، د) تورو سره په ترکیبي ډول لیکل شوي دي، نومونه واخلئ؟



فعالیت

پورتني توري د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعلیق خط قاعدو ته په پاملرني سره په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه په کږکي قلم خو واري د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ویشتم لوست

له نورو تورو سره د (ر، س) تورو ترکیبر

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په شکسته او نستعلیق خط له نورو تورو سره د (ر، س) تورو په ترکیب وپوهیږي.

پوښتنې

ستاسو په نظر د شکسته خط ترکیبونه د نستعلیق خط له ترکیبونو سره څه توپیر لري؟
په لاندې نمونه کې څو توري له نورو توروسره په ترکیبي ډول مشق شوي دي؟



فعالیت

په شکسته نستعلیق خط د (ر، س) تورو د خطاطۍ په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته پورتنۍ نمونه د شکسته نستعلیق خط قاعدو ته په ژوري پاملرنې سره په کږکي قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې ته په ژورې پاملرنې سره څو توري په شکسته نستعلیق خط په کږکي قلم په خپلو کتابچوکې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ويشتم لوست

له نورو تورو سره د (ص، ط) تورو ترکيب

موخه: زده کوونکي به د (ص، ط) تورو له خطاطۍ، ټکو اېښودلو سره په مفرد او ترکيبي ډول بلدتيا پيدا کړي.

پوښتنې

په لاندينۍ نمونه کې کوم توري په شکسته نستعليق خط له (ص، ط) تورو سره يو ځای خطاطي شوي دي؟

لاندې کلمې له کومو تورو څخه جوړې شوي دي؟



فعاليت

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم له (ح، ا، و) تورو سره په ترکيبي ډول په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې په شکسته نستعليق خط په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درویشتم لوست

له نورو تورو سره د (ع، ف) تورو ترکیب

موخه: زده کوونکي به په مفرد او ترکيبي بڼه د (ع، ف) تورو له خطاطۍ او ټکو ايښودلو سره آشنا شي.

پوښتنې

کله مو د (ع، ف) توري په ترکيبي بڼه مشق کړي دي؟

په لاندې نمونه کې کومې کلمې له (ع، ف) تورو سره په ترکيبي بڼه مشق او تمرين شوي دي؟

فعالیت

د پورتنۍ نمونې مفرد او مرکب توري د کرسي خط له پاسه په شکسته نستعليق خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې ته پاملرنه وکړئ، بيا هغه څو وارې په شکسته نستعليق خط په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلرويشتم لوست

له نورو تورو سره د (ق، ک) تورو ترکيب

موخه: په شکسته نستعليق خط، مرکب او مفرد شکل د (ق، ک) توري په کړکي قلم له خطاطی او ټکو ایښودلو سره به زده کوونکي بلد شي.

پوښتنې

ستاسو په آندلاندې توري یو له بل سره څه توپیر لري او څه ډول مشق شوي دي؟
پر شکسته نستعليق خط د لاندې تورو د يو ځای کيدو په اړوند څه ويلای شئ؟

فعاليت

په خپلو ډلو کې د پورتنی نمونې په اړوند خبرې او بحث وکړئ، وروسته يې په خپلو کتابچو کې تمرين کړئ او بيا يې د ننداريې لپاره ټولګي ته راوړئ.

کورنی دنده

د کتاب په نمونو سربيره مفرد او مرکب توري په دوامداره توګه په يوه کلمه کې پر شکسته نستعليق خط په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق اوتمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

له نورو تورو سره د (ل، م، ن) تورو ترکیب

موخه: د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعلیق خط قاعدو ته په پاملرنې سره د (ل، م، ن) تورو له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره د زده کوونکو بلدتیا.

پوښتنې

څه فکر کوئ په پخوانیو ټولګیو کې له دې تورو سره بلد وئ او کله مو هغه تمرین کړي دي؟

ستا سو په نظر د لاندینیو کلمو په ترکیب کې ډیر کوم توري کارول شوي دي؟



فعالیت

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعلیق خط له اصولو سره سم څو واري په خپلو کتابچوکې مشق کړئ.

کورنۍ دنده

له خپلې خوښې سره سم پورتنۍ نمونه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

له نورو تورو سره د (و، ه) تورو ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په شکسته نستعلیق خط د (و، ه) تورو له خطاطۍ او ترکیبي بڼو سره آشنا شي.

پوښتنې

څه فکر کوئ (و، ه) توري په شکسته نستعلیق خط او مرکب ډول څنګه خطاطي کیږي؟
کله مو کومه کلمه د کرسي خط له پاسه په شکسته نستعلیق خط په کړکي قلم مشق کړې ده؟



فعالیت

پورتنۍ نمونې د کرسي خط له پاسه په ژورې پاملرنې سره په خپلو کتابچو کې مشق کړئ، په خپلو تمرینونو کې باید پاملرنه وکړئ، تر څو وکولای شئ، هغه سم خطاطي کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې په شکسته نستعلیق خط په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ويشتم لوست

له نورو تورو سره د (ی) تورو ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په شکسته نستعلیق خط په مفرد اومرکب شکل د (ی) توري له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره بلد شي.

پوښتني

ستاسو په نظر د (ی) توری په څو ډولو خطاطي او ټکي يې ايښودل کيږي؟
څه فکر کوئ،کوم توري په مرکب ډول مشق او تمرين شوي دي؟



فعاليت

پورتنی نمونه د کرسي خط له پاسه داسي وليکئ چې توري په خپل ځای کي راشي د شکسته نستعليق خط اصولو ته په پاملرنې يې پر کرکي قلم مشق او تمرين کړئ.

کورنی دنده

د (ی) توری د کرسي خط له پاسه د شکسته نستعليق خط قاعدو ته په پاملرني سره په کرکي قلم په خپلو کتابچو کي مشق او تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم څپرکی

د کلمو په بېلابېلو موقعیتونو کې په نسخ خط د تورو د حرکتونو او ټکو اېښودلو طریقه

مفرد توري   د پیل توري   د منځ توري   د پای توري

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

له نورو تورو سره د (ا) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په کرکي قلم له مفردو تورو سره د کلمو په پیل، منځ اوپای کې په نسخ خط د (ا) توري په ټکو اینښودلو او خطاطی وپوهیږي.

پوښتني

کله مو د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم او نسخ خط د (ا) توری تمرین کړی دی؟

د (ا) توري په لوړوالي کې څو ټکي مشق او لیکل شوي دي؟



فعالیت

د کرسي خط له پاسه په نسخ خط او کړکي قلم د (الف) توري د ټکو اینبودل مشق او تمرین کړئ.

کورنی دنده

پورتنی نمونې په ژورې پاملرنې سره په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

نهه ویشتم لوست

له نورو تورو سره د (ب) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کلمې په پیل، منځ او پای کې په مفردو تورو کې په نسخ خط د (ب) توري په ترکیبونو، حرکتونو او ټکو اپښودلو وپوهېږي.

پوښتنې

کله مو د نمونې په ډول په دې علامو د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړی دی؟
ستاسو په نظر د (ب) توری د کلمو په پیل، منځ اوپای کې له نورو تورو سره څه ډول ترکیب کېږي؟



فعالیت

پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه د نسخ قاعدې او اصولو ته په پاملرنې سره پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې ته په ژورې پاملرنې سره په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (ج) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به په نسخ خط د (ج) توري له ټکو ایښودني او له نورو تورو سره په ترکیب وپوهیږي.

پوښتنې
کله مو د کرسي خط په مخ په نسخ خط د (ج) توری اندازه کړی اوټکي مو ورته ایښي دي؟
ستاسو په نظر ترکیب شوي توري د جملې په پیل او منځ کې څه ډول دي؟



فعالیت

د (ج) توري د ټکو ایښودلو او حرکتونو د ځانګړتیاوو او له نورو تورو سره یې د ترکیب په اړوند بحث وکړئ، وروسته هغه کلمې چې د (ج) توری په کې راغلی وي د کرسي خط په مخ اوکړکي قلم په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

کورنۍ دنده

پورتنیو نمونو ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (د) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نسخ خط د (د) توري له ټکو اېښودلو او حرکتونو سره بلد شي.

پوښتني

کله مو د (د) توری له نورو تورو سره ترکیب کړی د کرسي خط پر مخ مو په نسخ خط خطاطي کړی دی؟

ستاسو په نظر په لاندي جمله کې د (د) توری له نورو تورو سره خطاطي شوی دئ؟

فعالیت

په خپلو کتابچو کې د (د) توري د ټکو اېښودلو،حرکتونو او له نورو تورو سره د کلمو د بېلا بېلو موقعیتونو په اړوند په خپلو منځو کي بحث وکړئ، وروسته هر فعالیت په کړکي قلم په خپلو کتابچو کي خطاطي کړئ.

کورنی دنده

پورتنی نمونه په کړکي قلم په خپلو کتابچو کي مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (ر) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نسخ خط د (ر) توري له ټکو اېښودلو حرکتونو او له نورو تورو سره پر ترکیب وپوهېږي.

پوښتنې

ستاسو په نظر د (ر) توری د کلمو په کومه برخه کې له نورو تورو سره یو ځای مشق کیږي؟
څه فکر کوئ په لاندینی نمونه کې د (ر) توری په نسخ خط له نورو تورو سره څه ډول ترکیب شوي دي؟



فعالیت

د (ر) توري ټکو اېښودلو ته په پاملرنې سره یې د کرسي خط له پاسه پر نسخ خط او کرکي قلم په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه د نسخ خط د ځانګړتیاوو په پام کې نیولو سره په کرکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې ديرشم لوست

له نورو تورو سره د (س) توري ترکيب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط پر مخ په نسخ خط د (س) توري له ټکواېښودلو، حرکتونو، پر کړکي قلم له خطاطۍ سره بلد شي.

پوښتنې

ستاسو په نظر د (س) توری له نورو تورو سره څه ډول په ترکيبي توګه مشق او خطاطي کېږي؟

ايا د (س) توري د خطاطۍ او له نورو تورو سره يې د ترکيب په اړوند څه ويلای شئ؟



فعاليت

په خپلو ډلو کې د (س) توري د کلمو په بېلا بېلو بر خوکې د ترکيب په اړوند بحث وکړئ، وروسته پورتنی بيت په نسخ خط د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

کورنی دنده

پورتنی نمونه په کړکي قلم ځو وارې په خپلوکتابچو کې مشق او تمرين کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (ص) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط په مخ او نسخ خط له ټکو اېښودلو او له نورو تورو سره پر ترکیب وپوهېږي.

پوښتني

کله مو د (ص) توری له نورو تورو سره په کږکي قلم په کلمو کې پر نسخ خط مشق کړي دی؟

څه فکر کوئ، د (ص) توری د کلمو په کومو برخو کې په پیوسته ډول مشق شوي دی؟

فعالیت

د کلمو په بېلا بېلو بر خو کې د (ص) توري ټکو ایښودلو اوترکیب ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته پورتنی نمونې په کږکي قلم پخپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنی دنده

پورتنی نمونه د نسخ خط ځانګړتیاووته په پاملرنې په کږکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه دیر شم لوست

له نورو تورو سره د (ط) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط په مخ او نسخ خط له نورو تورو سره په ټکو اېښودلو او ترکیبونو وپوهیږي.

پوښتني

ستاسو په نظر د (ط) توری د کلمو په کومو برخو کې په ترکیبي ډول مشق کېږي؟
څه فکر کوئ چې د (ط) توری څو ټکي لري، د کلمو په کومو برخو کې په یوازې ډول مشق کیږي؟



فعالیت

پورتنی نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته یې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

کورنۍ دنده

د (ع) توری د کلمو په پیل، منځ او آخر کې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (ع) توري ترکيب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نسخ خط د (ع) توري له ټکواېښودلواوترکيب سره بلد شي.

پوښتنې

څه فکر کوئ د (ع) توری د کلمو په منځ کې څه ډول مشق کېږي؟
ستاسو په نظر د (ع) توری د کلموپه بېلا بېلو برخو کې څه ډول خطاطي کېږي؟



فعالیت

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته يې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

کورنۍ دنده

د (ع) توری د کلمو په پيل، منځ او آخر کې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرين کړئ، بله ورځ يې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (ف) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (ف) توري په ټکو ابښودلو او د نسخ خط له اصولو سره سم په ترکیبونو وپوهیږي.

پوښتني

ستاسو په اند د (ف) توری د کرسي خط په کومه برخه کې دی او څو ټکي لري؟
کله مو په کړکي قلم د نسخ خط له اصولو سره سم د (ف) توري ټکي ایښي دي



فعالیت

پورتنی نمونه هغه ترکیبونو ته په پاملرنې په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنی نمونه په کړکي قلم څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (ق) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (ق) توري په ټکو ایښودلو او پر نسخ خط به یې له نورو تورو سره پر ترکیبونو وپوهېږي.

پوښتني

ستاسو په نظر د (ق) توري ټکي څه ډول ایښودل کیږي او په څو طریقو خطاطي کېږي؟
څه فکر کوئ د (ق) توری د کلمو په کومو برخو کې په ترکیبي ډول لیکل کېږي؟



فعالیت

د (ق) توري ټکو اېښودلو او د کلمو په بېلا بېلو برخو کې ترکیب ته په پاملرنې یې د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم څو واري په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه دیرشم لوست

له نورو تورو سره د (ک) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (ک) توري د ټکو اېښودلو له بنې، د کرسي خط پر مخ او نسخ خط له اصولو سره سم په ترکیبونو وپوهیږي.

پوښتنې

په لاندینیو نمونو کې د (ک) توری د کلمو په کوموځایونو کې له نورو تورو سره ترکیب شوی دی؟

د (ک) توري په اندازه کولو او ټکو اېښودلو کې څه ډول ټکي کارول شوي دي

فعالیت

د ټکو ایښودلو، حرکتونو د (ک) توري له تورو سره د ترکیبونو په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته پورتنی نمونې په کړکې قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنی جمله په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې د کرسي خط له پاسه مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوېښتم لوست

له نورو تورو سره د (ل) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (ق) توري په ټکو اېښودلو او پر نسخ خط به یې له نورو تورو سره په ترکیبونو وپوهیږي.

پوښتنې

په لاندې نمونې کې څه شیان ګورئ؟

کله مو د (ل) توری له نورو تورو سره یو ځای مشق کړی دی؟



فعالیت

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته یې د کرسي خط له پاسه په نسخ خط اوکړکي قلم مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څلوېښتم لوست

له نورو تورو سره د (م) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (م) توري له ټکو ایښودلو او له نورو تورو سره د کرسي خط له پاسه په نسخ خط مشق وکړای شي.

پوښتنې

په لاندې نمونه کې (م) د نورو تورو په کومه برخه کې ترکیب شوی دی؟
کله مو د (م) توری له نورو تورو سره یو ځای خطاطي کړی دی؟

ښوونه او روزنه د یوه ملت د
پرمختګ بنسټ جوړوي.

فعالیت

د (م) توري ټکوایښودلو او له نورو تورو سره یې ترکیب ته پر توجه کولو پورتنۍ جمله د کرسي خط له پاسه پر کړکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

کورنۍ دنده

د (م) توري حرکتونه او ترکیبونه په پورتنۍ نمونه کې وګورئ، بیا یې تمرین کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه څلوېښتم لوست

له نورو تورو سره د (ن) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (ن) توري له ټکو اېښودلو او له نورو تورو سره د کرسي خط له پاسه په نسخ خط وپوهېږي.

پوښتني

په لاندې نمونه کې د (ن) توري ترکیبونه د کلمو په کومو برخو کې ښکاري؟

ستاسو په نظر په کلمو کې په کړکي قلم د (ن) د توري خطاطي څنګه ګورئ؟



فعالیت

په پورتنی نمونه کې د (ن) توري موقعیت ته په کلموکي ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه مشق کړئ.

کورنی دنده

پورتنی نمونه څو وارې په کړکي قلم په خپلو کتابچوکې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې څلوېښتم لوست

له نورو تورو سره د (و) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (و) توري له ټکو ایښودلو او له نورو تورو سره د کرسي خط له پاسه په نسخ خط په مشق وپوهیږي.

پوښتني

ستاسو په نظر د (و) توری څو ټکي لري، د کلمو په کومه برخه کې به یې په ترکیبي ډول مشق کړئ؟

کله مو د (و) توری په نسخ خط او کړکي قلم خطاطي کړی دی؟

فعالیت

د پورتنۍ نمونې په اړوند په خپل منځ کې بحث وکړئ، وروسته هر یو د کرسي خط له پاسه په کړکي قلم مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ جمله په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ، بیا یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور څلوېښتم لوست

له نورو تورو سره د (هـ، ه) توري ترکيب

موخه: زده کوونکي به د کرسي خط له پاسه په نسخ خط د (هـ) توري په ټکو اېښودلو او له نورو تورو سره په ترکيبونو وپوهيږي.

پوښتنې

کله مو تر اوسه د (هـ) توري له دوه ډوله ټکو ايښودلو سره په نسخ خط مشق کړی دی؟

څه فکر کوئ د (هـ) توری له نورو تورو سره څنګه يو ځای خطاطي کيږي؟



فعاليت

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ، وروسته يې پر نسخ خط په خپلو کتابچوکې مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ جمله په کړکي قلم په خپلو کتابچو کې څو واري مشق او تمرين کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه څلوېښتم لوست

له نورو تورو سره د (ی) توري ترکیب

موخه: زده کوونکي به د (ی) توري پر ټکو اېښودلو او له نورو تورو سره د نسخ خط په ترکیبونو وپوهېږي.

پوښتنې

ستاسو په نظر د (ی) توري ټکي څنګه اېښودل شوي او څه ډول له نورو تورو سره ترکیب شوی دی؟

څه فکر کوئ د (ی) توری څو ډوله خطاطي کېږي؟



فعالیت

پورتنۍ نمونه په کړکي قلم د کرسي خط له پاسه په نسخ خط په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ.

کورنۍ دنده

پاسنۍ سرمشق په کړکي قلم باندې ولیکئ او ټولګي ته یې راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ څلوېښتم لوست

کتابت

موخه: زده کوونکي به د خطاطۍ په بېلابېلو طریقو او د کتابت پر قاعدو لیکل او بېلا بېلو کلمو، دکرسي خط پر مخ له نستعلیق، نسخ او شکسته نستعلیق خط سره بلد شي.

پوښتنې

څه فکر کوئ د خطاطۍ د قاعدو، له بېلا بېلو قلمونو، د کرسي خط له پاسه خطاطۍ سره بلدتیا لرئ؟
په لاندې مشق کې څو ډوله خطونه وینئ؟





فعالیت

په پورتنیو نمونو کې د کتابت خطاطۍ قواعد او اصول په درې ډوله (نستعلیق، نسخ او شکسته نستعلیق) ښودل شوي دي. پورتنیو نمونو ته په ځیر وګورئ، وروسته یې په کرکي قلم او خودکار په خپلو کتابچو کې خطاطي کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه په کرکي قلم په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه څلوېښتم لوست

پر نستعلیق خط د چلیپا لیکل

موخه: زده کوونکي د خطاطی په بیلابیلو طریقو چلیپا لیکنې او په کړ کې قلم د نستعلیق خط له لیکلو سره بلد شي.

پوښتنې

په لاندې نمونه کې کوم ډول خطونه گورئ؟

ستاسو په نظر په لاندې نمونه کې څو کلمې خطاطي شوي دي؟



فعالیت

پورتنی نمونه وگورئ وروسته یې د کرسي خط له پاسه د هغه له مخې په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونې ته پاملرنه وکړئ، وروسته یې په کږکي قلم په خپلو کتابچو کې تمرین کړئ، بله ورځ یې ټولگي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته څلوېښتم لوست

د تور مشق دخطاطۍ طریقه

موخه: زده کوونکي به د تور مشق دخطاطۍ په اصولو او په کړکي قلم د نستعلیق خط له لیکلو سره بلد شي.

پوښتنې

په لاندې نمونه کې څه وینئ؟

کله مو کلمې دتور مشق په بڼه په نستعلیق خط او کړکي قلم په یوه پاڼه کې تمرین کړې دي؟

فعالیت

پورتنۍ نمونې ته ژوره پاملرنه وکړئ او وروسته یې له نمونې سره سم په خپلو کتابچو کې مشق کړئ.

کورنۍ دنده

پورتنۍ نمونه یو وار بیا له ټولو ځانګړتیا وو سره په خپلو کتابچو کې مشق کړئ، بله ورځ یې ټولګي ته راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه برخه
د حسن خط د تدریس لاربنود

لومړی لوست

۱مخ

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه) لومړی ساعت

د لوست سر لیک	په نستعلیق خط له نورو تورو سره د (الف) توري ترکیب	
عمومي موخې	په نستعلیق خط د الف توري له نورور تورو سره په ټکو ایښودلو، د قلم په حرکتونو او خطاطۍ به زده کوونکي وپوهیږي	
د زده کړې موخې - پوهنیزې - مهارتي - ذهنیتي	له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي: - زده کوونکي به له نورو تورو سره د الف توري په ټکو ایښودلو، حرکتونو او د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خطاطۍ باندې وپوهیږي. -زده کوونکي به د نستعلیق خط له اصولو سره سم له نورو تورو سره د الف توري په ټکو ایښودلو او حرکتونو باندې وپوهیږي - زده کوونکي په نستعلیق خط د الف توري له حرکتونو او خطاطۍ سره مینه پیدا کړي.	
د تدریس لاربنود	ډله ییز فعالیتونه، ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه	
دتدریس وسایل	کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل‌پاک، تباشیر، مشواڼي، خط کش، قط زن	
د ارزونې لاره	د خپل ډاډ تر لاسه کولو په موخه له زده کوونکو څخه پوښتنې وکړئ	
لومړني فعالیتونه	سلام اچول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د نوې کال مبارکي، د پنځم ټولګي د درسي کتاب یادونه او له نوي لوست سره یې اړیکې ورکول	۵ دقیقې
	انګیزوي پوښتنې کله مو د کرسي خط له پاسه په نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د الف توری په ترکیبي بڼه خطاطي کړې ده؟	۵ دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکي فعالیتونه	مدت زمان
• په نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د الف توري د حرکتونو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ • په نستعلیق خط او کړکي قلم له نورو تورو سره د الف توري د حرکتونو په باب زده کوونکو ته معلومات ورکړئ • زده کوونکو ته لارښوونه وکړئ چې له نورو تورو سره د الف توری څو وارې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ • د دوی تر سره شوي کارونه اصلاح او پوښتنو ته یې ځوابونه ورکړئ • بشپړ شوي کارونه یې راټول او وارزوئ • له نورو تورو سره د الف توري ترکیب په کړکي قلم زده کوونکو ته عملاً ور زده کړئ	۳۵ دقیقه

کورنۍ دنده

د لومړي لوست جمله په خپلو کتابچو کې څو وارې مشق او تمرین کړئ

اضافي معلومات

ښاغلی ښوونکیه! له نورو تورو سره د الف توري یو ځای ترکیب زده کوونکو ته پر تختې توضیح کړئ. له نورو تورو سره د الف توري ټکو ایښودلو د کړکي قلم پر څوکه لومړی حرکت و رکړئ، بیا د ښي پلو په څوکه یوه نیمه دایره رسم کړئ، دریم حرکت د کړکي قلم د ښي پلو په څوکه حرکت ورکړئ، وروسته د الف توری ورسره یو ځای یا وصل کړئ. د لومړي لوست په جمله کې د الف توري دوه ډوله حرکتونه لري، ښه به وي لومړی هغه ته پاملرنه وکړئ، ځکه دا خط په اصولو او قاعدو ولاړ دی، دا خط د ښکلا له پلوه ډیر ښکلی خط دی، په ځای خبره ده چې دا خط یې د اسلامي خطونو د ناوې په نوم یاد کړی دی. چې د کړکي قلم په واسطه ښکلی لیکل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه ویشتم لوست

۲۹ مخ

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه) لومړۍ ساعت

د لوست سر لیک	له نورو تورو سره د (ی) توري په نستعلیق خط ترکیب	
عمومي موخې	زده کوونکي به په شکسته نستعلیق خط له نورو تورو سره د (ی) توري په ټکو ایښودلو او خطاطۍ وپوهیږي	
د زده کړې موخې - پوهنیزې - مهارتي - ذهنيتي	له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي: - زده کوونکي به په شکسته خط په مفرد او مرکب ډول د (ی) توري په خطاطۍ وپوهیږي -زده کوونکي به د (ی) توری له نورو تورو سره په کړکي قلم له خطاطۍ او ټکو ایښودلو سره بلد شي. - زده کوونکي به له نورو تورو سره د (ی) توري له ټکو ایښو دلو او خطاطۍ سره مینه پیدا کړي	
د تدریس لارښود	ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه	
دتدریس وسایل	کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشوانۍ، خط کش، قط زن	
د ارزونې لاره	د خپل ډاډ تر لاسه کولو لپاره له زده کوونکوڅخه پوښتنې وکړئ	
لومړني فعالیتونه	سلام اچول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل او دتېر لوست یادونه او له نوې لوست سره يې اړیکي ورکول	۵ دقیقې
	انګیزوي پوښتنې کله مو د (ی) توری پر شکسته خط او کړکي قلم په مفرد او مرکب ډول ترکیب کړی دی؟	۵ دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت	د ښوونکي فعالیتونه
۳۵ دقیقې	• زده کوونکو ته د شکسته خط په اړوند معلومات ورکړئ • زده کوونکي په شکسته نستعلیق خط د الفبا تورو په مفرد او مرکبه بڼه او کږکي قلم د خطاطۍ پر ډول وپوهوئ. • د الفبا تورو لیکل په شکسته خط او د ټکو ایښودلو بڼه زده کوونکو ته ور زده کړئ • د کرسي خط له پاسه په شکسته خط او کږکي قلم د کلمو خطاطي زده کوونکو ته ور زده کړئ • د ښو کارونو د تر سره کولو له امله هغوی وهڅوئ

کورنۍ دنده

پنځه ویشتم لوست د کتاب له مخې په خپلو کتابچو کې مشق او تمرین کړئ

اضافي معلومات

شکسته خط (شکسته نستعلیق)

له هغه وروسته چې نستعلیق خط رامنځ ته شو، لږ لږ یې د ډیرې کارونې او چټکتیا له امله نوې بڼه ځانته خپله کړه، لکه چې محقق او ثلث خطونه چې له نازک خط ریحان څخه او هم له کوچنې او نرې خط (رقاع) او بیا له نرې خط (غبار) څخه رامنځ ته شو.

په دې یې هم بسته ونه کړه، د دې لپاره چې چټکه لیکنه تر لاسه شي، د توقیع، رقاع خطونو او د شکسته تعلیق خطونه هم را پیدا شول چې وروستي خط وکولای شول په چټکۍ سره ځینې مفصلې کلمې متصلې ولیکي. د همدې اصل په پام کې نیولو سره تعلیق او نستعلیق شکسته رواج او دود شو، له شکسته خط په شعر او خط لیکلو کې ګټه واخیستل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه وېشتم لوست

۳۲ مخ

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)　　　　لومړی ساعت

د لوست سر لیک	له نورو تورو سره د (ب) توري ترکیب	
عمومي موخې	زده کوونکي به له نورو تورو سره پر نسخ خط د (ب) توري په ټکو ایښودلو او خطاطۍ پوه شي.	
د زده کړې موخې - پوهنیزې - مهارتي - ذهنیتي	له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي: - زده کوونکي به په نسخ خط او کړکي قلم د (ب) توري په ټکو ایښودلو او خطاطۍ وپوهیږي -زده کوونکي به په نسخ خط او کړکي قلم د (ب) توری له نورو تورو سره په ترکیب، ټکو ایښودلو او خطاطۍ پوه شي - زده کوونکي به له نورو تورو سره د (ب) توري له ترکیب او ټکو ایښودلو او خطاطۍ سره مینه پیدا کړي	
د تدریس لارښود	ډله ییز او ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه	
دتدریس وسایل	کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشواڼي، خط کش، قط زن	
د ارزونې لاره	د خپل ډاډ تر لاسه کولو لپاره له زده کوونکو څخه پوښتنې وکړئ	
لومړني فعالیتونه	سلام اچول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، دتېر لوست یادونه او له نوي لوست سره یې تړاو ورکول او په نوي لوست پیل کول.	۵ دقیقې
	انګیزوي پوښتنې کله مو په نسخ خط توری او یا کلمه خطاطي کړیده؟	۵ دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکي فعالیتونه	وخت
• په نسخ خط د خطاطۍ په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ • د الفبا تورو د جوړښت او بڼې په اړوند په نسخ خط د کتاب له مخې زده کوونکو ته معلومات ورکړئ • د کرسي خط پر مخ د (ب) توري د مرکبونو، خطاطۍ او ټکو ایښودلو په اړوند زده کوونکو معلومات ورکړئ • په کرکې قلم د نسخ خطاطۍ په اړوند له زده کوونکو سره مرسته وکړئ • د دوی کارونو ته ارزښت ورکړئ او د هغه ارزونه وکړئ	۳۵ دقیقې

کورنۍ دنده

په نسخ خط د (ب) توری د کتاب له مخې مشق او تمرین کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته څلوېښتم لوست

۵۱ مخ

د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه) **لومړی ساعت**

د لوست سر لیک	د تور مشق د خطاطۍ طریقه	
عمومي موخې	زده کوونکي به په پنډ خط د تور مشق له خطاطۍ سره بلد شي.	
د زده کړې موخې - پوهنیزې - مهارتي - ذهنیتي	له زده کوونکو څخه هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخو ته ورسیږي: -زده کوونکي به په کړکي قلم او نستعلیق خط د تور مشق په خطاطۍ وپوهیږي - زده کوونکي به په کړکي قلم او نستعلیق خط د کلمو له لیکلو سره بلدتیا پیدا کړئ -زده کوونکی به په کړکي قلم او نستعلیق خط د تور مشق له خطاطۍ سره مینه پیدا کړي	
د تدریس لارښود	ځانګړي او ډله ییز فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه	
دتدریس وسایل	کتاب، کتابچه، کړکي قلم، پنسل، پنسل پاک، تباشیر، مشوانۍ، خط کش، قط زن	
د ارزونې لاره	د خپل ډاډ تر لاسه کلوول لپاره له زده کوونکو څخه پوښتنې کوي	
لومړني فعالیتونه	سلام اچول، احوال پوښتنه، د ټولګي تنظیم، د حاضرۍ اخیستل، د کورنۍ دندې کتنه او اصلاح، د تېر لوست یادونه او له نوي لوست سره اړیکې ورکول او په نوي لوست پیل کوي	۵ دقیقې
	انګیزوي پوښتنې آیا په کړکي قلم موکلمې په نستعلیق خط د تور مشق په بڼه تمرین کړي دي؟	۵ دقیقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت	د ښوونکي فعالیتونه
۳۵ دقیقې	• زده کوونکي به په نستعلیق خط او کړکي قلم د تور مشق په خطاطۍ وپوهیږي • زده کوونکي دې په نستعلیق خط د کتاب له مخې کلمې په تختې د تور مشق په بڼه ولیکي • زده کوونکي به په کړکي قلم او نستعلیق خط د تور خط مشق ولیکلای شي • کارونه یې په دریو برخو وویشئ او هغه ارزیابي کړئ

اضافي معلومات

ښاغلی ښوونکیه! زده کوونکي د خطاطۍ د بېلا بېلو طریقو او ښکلا لیکنې سره آشنا کړئ، له دې جملې څخه یو تور مشق دی، دا له یوه مخ مشق څخه عبارت دی، مثلاً: د ثلث خط غټ لیکل شوی دی. او په مخ کې یې فاصله ډکه کړې ده، یعنې دا هم د سیا مشق یوه برخه ده، نور څه نه دي.

دا ډول خطاطي د لاس د حرکتونو په سمولو او آزادۍ او د خطاطۍ په ښکلا او ښیگڼه کې ډېره مرسته کوي، په مرسته یې زده کوونکي په کړکي قلم په یوه مخ کې ډېر مشق کوي چې له ښکلا لیکنې سره مرسته کوي، زده کوونکي په کړکي قلم او نستعلیق خط په جملو کې د کلمو خطاطۍ ته متوجه کېږي او د تورو او کلمو په یوځای کولو او خطاطۍ د کرسي خط له پاسه متوجه کېږي او په عملي ډول ور باندې کار کوي، نستعلیق خط د یو ډول اصولو او قاعدو لرونکی دی چې هغې ته په پاملرنې سره زده کوونکي له ښکلا لیکنې سره بلدیږي، تر څو کلمې او جملې سمې او ښکلي خطاطي کړي.

ښاغلی ښوونکیه! د هر لوست لپاره د ځانگړي پلان له لیکلو ډډه شوې ده، تاسې کولای شئ چې له پورتني پلان څخه په گټې اخېتلو سره په ټولو لوستونو کې گټه واخلئ.

یادونه: هغه درسونه چې ډېر وخت نیسي، کولای شئ هغه په دریو درسي ساعتونو کې تدریس کړئ.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library